# دَ تیموتیوس په نُوم دَ پولوس رسُول اول خط

## سلام

١ ﴿١﴾ دَ پولوس له طرفه چه زمُونږ دَ خلاصوُونکی خُدائے
اَؤ زمُونږ دَ اُمید دَ مرکز مسیح عیسیٰ په حُکم دَ مسیح عیسیٰ
رسُول دے.

﴿٢﴾ دَ تیموتیوس په نُوم چه دَ ایمان په وسیله زما رښتُونے
فرزند دے. تا ته دِ دَ پلار خُدائے اَؤ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ
مسیح له طرفه فضل، رحم اَؤ سلامتی حاصله وی.

## دَ غلط تعلیم خلاف خبردارے

﴿٣﴾ لکه څنګه چه مِکدونیه ته دَ تلو په وخت ما تا ته دا
نصیحت کړے وو چه په اِفسوس کښے پاتے شه اَؤ څنے
کسانو ته حُکم ورکړه چه غلط تعلیم ورنۀ کړی، ﴿٤﴾ اَؤ په
هغه قِصو اَؤ بے حسابه نسب نامو دِ خیال نۀ کوی کُوم چه
دَ تِکرار باعث جوړیږی اَؤ دَ هغه خُدائے دَ اِنتظام په مُطابق
نۀ وی دَ کُوم دارومدار چه په ایمان دے. ﴿٥﴾ دَ حُکم مقصد
دا دے چه په پاک زړۀ اَؤ نیک نیت اَؤ رښتینی ایمان سره
مینه پیدا شی. ﴿٦﴾ دا څنو خلقو پریښودل اَؤ په عبث خبرو
پسے شول ﴿٧﴾ اَؤ دَ شریعت اُستاذان جوړیدل غواړی، حال
دا دے چه کُومے خبرے وائی اَؤ دَ کُومو چه په یقینی طور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دعویٰ کوی، په هغې پوهیږی هم نه.

۸ خو مُونږ ټول پوهیږو چه شریعت ښۀ دے، خو په دے
شرط چه څوک شریعت په صحیح طور استعمال کړی ۹
یعنې دا معلُومه ده چه شریعت دَ صادقانو دَ پاره نۀ دے
بلکه دَ بے شرعې اَؤ سرکښو خلقو، بے دینو ګناه ګارو،
ناپاکو اَؤ بے ادبو اَؤ دَ مور پلار قاتلانو اَؤ خُونیانو، ۱۰
حرام کارانو اَؤ بچه بازو، اغوا کؤونکو، دروغژنو اَؤ دَ دروغو
قسم خوړُونکو اَؤ دَ دے نه علاوه دَ صحیح تعلیم خلاف دَ
کار کؤونکو دَ پاره دے. ۱۱ دا تعلیم دَ خُدائے تبارک دَ
جلال دَ هغه زیری په مُطابق دے کُوم چه ما ته په حواله شو.

## دَ رحم دَ پاره شکر ګذاری

۱۲ زَۀ دَ مالِک عیسیٰ مسیح شکر کوم چه ما له ئے طاقت
راکړو چه زَۀ ئے دیانتدار وګڼلم اَؤ دَ خپل خدمت دَ پاره ئے
وټاکلم. ۱۳ اګر که اول زَۀ کُفر غرؤونکے اَؤ عذابؤونکے اَؤ
بے عزته کؤونکے وم، خو بیا هم په ما رحم وشو ځکه چه
ما دَ بے اِیمانئ په حالت کښې په ناپوهئ دا کارُونه کړی وُو.
۱۴ اَؤ زمُونږ دَ مالِک فضل دَ هغه ایمان اَؤ مینې کُوم چه دَ
مسیح عیسیٰ په یووالی کښې دے، په مُونږ باندے بے حده
نازل شو. ۱۵ دا خبره رښتیا اَؤ په هر طور دَ قبلولو جوګه
ده، چه مسیح عیسیٰ ګُناه ګارانو ته دَ خلاصُون ورکولو دَ
پاره دُنیا ته راغے، چه په هغوئ ټولو کښې لوئے زَۀ یم. ۱۶
اَؤ په ما رحم دَ دے دَ پاره وشو چه په ما لوئے ګُناه ګار
کښې مسیح عیسیٰ خپل لوئے زغم ظاهر کړی، چه دَ هغه
خلقو دَ پاره مِثال شی کُوم چه په هغۀ دَ تل ژوندُون دَ پاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایمان راؤړی، زَۀ دَ هغوئ دَ پاره نمُونه شم. ۱۷ اوس دَ ازلی
بادشاه، یعنے غیر فانی نالیدلی واحد خُدائے عزت اَؤ جلال
دِ تل تر تله وی! آمین.

۱۸ اَئے تیموتیوسه زویه! دَ هغه پیشن ګویو په مُطابق چه
اول ستا په باب کښے شوی دی، زَۀ دا حُکم تا ته سپارم چه
تۀ دَ هغے په مُطابق ښۀ جنګ وکړے، ۱۹ اَؤ په ایمان اَؤ په
هغه ښۀ ضمیر قائم پاتے شے چه څنے خلقو چه دَ خپل
ضمیر وانۀ وریدل، دَ هغوئ نه ایمان لاړو. ۲۰ په هغوئ
کښے هُميناوس اَؤ اسکندر دی چه ما دَ شیطان په حواله
کړل چه خُدائے ته کُفر وئیل نه منع کیدل زده کړی.

## دَ دُعا په حق کښے نصیحتُونه

۲ ۱ نو بیا زَۀ دَ ټولو نه اول دا نصیحت کوم چه غوښتنه،
دُعاګانے، شفاعت اَؤ شکرُونه دِ دَ ټولو خلقو دَ پاره کولے
شی ۲ دَ بادشاهانو اَؤ دَ ټولو لویو مرتبو دَ خاوندانو دَ پاره
چه مُونږ پُوره په دینداریٔ اَؤ سنجیدګیٔ سره په قلاره ژوند
تیرول غواړُو. ۳ دا زمُونږ دَ خلاصوُونکی خُدائے په نزد
بهتره اَؤ غوره ده. ۴ هغه غواړی چه ټول خلق خلاصون
ومُومی اَؤ دَ حقیقت تر پیژندګلو ورسی. ۵ څکه چه یو
خُدائے دے اَؤ دَ خُدائے اَؤ دَ اِنسان په مینځ کښے
مینځګړے هم یو، یعنے مسیح عیسیٰ چه اِنسان دے، ۶
چا چه خپل ځان دَ ټولو دَ پاره په فدیه کښے ورکړلو چه په
مناسبو وختُونو دَ هغۀ شهادت وشی. ۷ زَۀ په دے غرض
پیغام آؤرؤُونکے اَؤ رسُول اَؤ غیرو قومُونو ته دَ ایمان اَؤ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صداقت خبرے بښۇونکے وتاکلے شوم، دروغ نۀ وايم بلکه رښتيا وايم.

٨ نو بيا زۀ غواړم چه خلق په هر ځائے کښے بغير دَ غُصے اَؤ تکرار نه پاک لاسُونه پورته کوی اَؤ دُعا غواړی.

٩ هم دغه شان ښځے دِ هم په حياداره جامه کښے دَ شرم اَؤ پرهيزګارئ سره خپل ځانُونه سمبالوی، نۀ په کونڅو اَؤ سرو زرو اَؤ ملغلرو اَؤ قيمتی جامو سره، ١٠ بلکه په نيکو کارُونو څنګه چه دَ ديندارئ اِقرار کوُونکو ښځو ته مُناسب دی. ١١ ښځے دِ په خاموشئ په پُوره تابعدارئ سره زده کوی. ١٢ اَؤ زۀ اجازت نۀ ورکوم چه ښځے دِ تعليم ورکړی يا دِ په خاوندانو حُکم چلوی، بلکه خاموشه دِ پاتے شی. ١٣ ځکه چه اول آدم پيدا کړے شو دَ هغۀ نه پس حوا. ١٤ اَؤ په آدم دوکه ونۀ شوه بلکه ښځه په دوکه کښے پريوتله اَؤ ګُناه ګاره شوه. ١٥ خو دَ اَؤلاد په زيږيدو به خلاصُون بيا مُومی، په شرط دَ دے چه هغه په ايمان، مينه اَؤ پاکيزګئ کښے سره دَ پرهيزګارئ پاتے شی.

## دَ رهبرانو قابليت

٣ ١ دا خبره رښتيا ده چه څوک چه دَ جماعت دَ مشر جوړيدلو خواهش لری نو هغه ښۀ کار غواړی. ٢ نو ځکه دِ زمُونږ دَ جماعت مشر دَ اِلزام نه پاک، دَ يوے ښځے خاوند، بيدار، شريف، سم ميلمه دوست اَؤ دَ تعليم ورکولو لائق وی، ٣ نۀ نشئ، نۀ جګړه مار، بلکه نرم مِزاج دِ وی اَؤ نۀ تکراری اَؤ نۀ دولت طلبه، ٤ چه دَ خپل کور په ښۀ شان بندوبست

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوی اَؤ خپل بچی په ښے سنجیدګئ سره تابعدار ساتی. ۵
که چرے یو سړے دَ خپل کور په بندوبست کولو نۀ پوهیږی
نو دَ خُدائے دَ جماعت به څۀ ساتنه وکړی؟ ۶ هغه دِ هیڅ
کله هم نوے ایماندار نۀ وی، چه ونۀ پړسیږی، هسے نۀ چه دَ
ابلیس په شان سزا ومُومی. ۷ اَؤ په کار دی چه دَ جماعت
نه په بهر خلقو کښے دِ هم نیکنام وی، هسے نۀ چه په
ملامتیا اَؤ دَ اِبلیس په جال کښے پریوزی

## دَ جماعت دَ خادمانو قابلیت

۸ هم دغه شان خادِمان دِ هم ادب ناک وی. دوه ژبی اَؤ
شرابیان اَؤ دَ نا جائزے ګټے لالچیان دِ نۀ وی. ۹ اَؤ دَ
ایمان راز دِ په پاک زړۀ کښے قائم ساتی. ۱۰ اَؤ دوئ دِ هم
اول و آزمائیلے شی، دَ هغے نه پس که چرے بے اِلزامه
ثابت شو نو دَ خدمت کار دِ وکړی. ۱۱ دغه شان دَ هغوئ
ښځے دِ هم ادب ناکے وی، غیبت کوؤنکے دِ نۀ وی بلکه
بیدارے اَؤ په ټولو خبرو کښے دِ ایماندارے وی. ۱۲ یو
خادم دِ تش دَ خپلے یوے ښځے خاوند وی، اَؤ دَ خپلو بچو
اَؤ دَ خپل کور دِ په ښۀ شان بندوبست کوی. ۱۳ څُکه چه
ځوک چه دَ خدمت کار په ښۀ شان کوی، هغه دَ خپل ځان دَ
پاره ښه مرتبه اَؤ په هغه ایمان کښے چه په مسیح عیسیٰ
باندے دے، ډیره زړه ورتیا لری.

## زمُونږ دَ مذهب راز

۱۴ سره دَ دے چه زۀ تا ته زر دَ درتلو اُمید لرم خو بیا هم
دا خبرے څکه درته لیکم، ۱۵ چه که زما په درتلو کښے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډیل وشی نو چه تا ته معلُومه شی چه دَ خُدائے په کور کښے، یعنے دَ ژوندی خُدائے په جماعت کښے کُوم چه دَ حق ستن اَؤ بنیاد دے، څنګه سلُوک کول په کار دی. ١٦ په دے کښے هیڅ شک نِشته چه دَ دینداریٔ راز لوئے دے، یعنے :

هغه چه دَ اِنسان په شکل کښے ظاهر شو،

اَؤ دَ رُوح په وسیله رښتُونے پاتے شو

اَؤ فرښتو هغه ولیدو،

اَؤ په قومونو کښے دَ هغهٔ پیغام خور شو،

اَؤ په دُنیا کښے خلقو په هغهٔ ایمان راؤړو،

اَؤ په جلال کښے پاس اُوچت کړے شو.

## دَ دروغو تعلیم په حق کښے تعلیم

٤ ١ رُوحُ القُدس صفا وائی چه په آخرو زمانُو کښے به څنی خلق دَ بے لارے کوُونکو رُوحونو اَؤ شیطانی تعلیم ته پام وکړی اَؤ دَ ایمان نه به وګرزی. ٢ دا به دَ هغه دروغژنو خلقو دَ ریاکاریٔ په سبب وی، دَ چا زړهٔ چه لکه په ګرمه اوسپنه داغلے شوے دے. ٣ هغوئ به خلق دَ وادهٔ کولو نه منع کوی، اَؤ هغوئ ته به دَ خاصو خوراکُونو نه دَ پرهیز کولو حُکم ورکوی چه خُدائے دَ دے دَ پاره پیدا کړی دی چه ایمان راوړُونکی اَؤ حق پیژندُونکی دِ په شکر ګذاریٔ سره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخوری. ۴ ځکه چه دَ خُدائے هر پيدا کړے څيز ښۀ دے
اَؤ هيڅ څيز دَ اِنکار لائق نۀ دے، خو په دے شرط چه دَ شکر
ګذارئ سره وخوړے شی. ۵ دَ دے دَ پاره چه هغه دَ
خُدائے په کلام اَؤ په دُعا پاک شی.

## دَ مسيح عيسیٰ ښۀ خادم

۶ که چرے تۀ ورُونړو ته دا خبرے وريادوے نو دَ مسيح
عيسیٰ ښۀ خادم به جوړ شے اَؤ دَ ايمان اَؤ دَ هغه ښۀ تعليم دَ
خبرو په وسيله دَ کُومو چه تۀ پيروی کوے لګيا يئے پرورش
به ومُومے. ۷ خو دَ بے دينئ اَؤ دَ زړو ښځو په شان دَ
قِصو نه ځان ساته اَؤ دَ ديندارئ دَ پاره تربيت کوه. ۸
ځکه چه دَ جسمانی تربيت فائده کمه ده خو دينداری دَ ټولو
خبرو دَ پاره فائده منه ده، ځکه چه په دے کښے دَ اوسنی اَؤ
دَ راتلُونکی ژوندُون وعده شته. ۹ دا خبره رښتيا ده اَؤ په
هر شان دَ قبلولو لائقه ده. ۱۰ مُونږ محنت اَؤ خواری ځکه
کوُو چه زمُونږ اُميد په هغه ژوندی خُدائے دے چه دَ ټولو
خلقو اَؤ خاص دَ ايمان راوړُونکو خلاصوُونکے دے.

۱۱ دَ دے خبرو حُکم کوه اَؤ تعليم ورکوه. ۱۲ هيڅوک دِ
ستا ځوانئ ته سپک ونۀ ګوری، بلکه تۀ دَ ايمان راوړُونکو دَ
پاره په خبرو کولو، چال چلن، مينه، ايمان اَؤ پاکئ کښے
نمُونه جوړ شه. ۱۳ تر څو چه زۀ نۀ يم راغلے، دَ کلام په
لوستلو اَؤ نصيحت کولو اَؤ په تعليم ورکولو کښے بوخت
اوسه. ۱۴ دَ هغه نعمت نه غافل کيږه مه کُوم چه تا ته
حاصل دے، اَؤ دَ نبوت په وسيله دَ بزرګانو دَ لاس کيښولو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په وخت تا ته درکړے شو. ۱۵ دَ دے خبرو فکر ساته اَوۀ په
دے کښے مشغُول اوسه چه ستا ترقی ټولو ته ښکاره شی.
۱۶ دَ خپل ځان اَوۀ دَ خپل تعلیم ساتنه کوه اَوۀ په دے خبرو
کښے قائم پاتے شه ځکه چه په داسے کولو به تۀ دَ خپل
ځان اَوۀ دَ خپلو آوۀریدُونکو دَ خلاصُون باعث شے.

## دَ نورو دَ پاره ذمه واری

۵ ۱ مشر سړے ملامت کوه مه بلکه دَ خپل پلار په شان
نصیحت ورته کوه اَوۀ ځوانان ورُونړه گڼه.

۲ اَوۀ زړے ښځے میندے گڼه اَوۀ ځوانے ښځے په پوره
پاکئ سره خویندے گڼه. ۳ دَ هغه کونړو چه په دُنیا کښے
بل څوک نۀ لری، دَ هغوئ عزت کوه. ۴ که دَ کُونړے بچی
یا نمسی وی نو هغوئ دِ اول دَ خپلے کورنئ هغه حق ادا
کړی کُوم چه په هغوئ دَ خپل مذهب دَ لوری فرض دے، اَوۀ
داسے دِ دَ خپل مور پلار اَوۀ دَ نیکُونو حق ادا کړی ځکه چه
دا خُدائے ته قبُول دی. ۵ کُومه کونړه چه بالکل یواځے
وی اَوۀ دَ هغے هیڅوک هم نۀ وی، هغه په خُدائے اُمید لری
اَوۀ شپه ورځ په زارئ اَوۀ دُعا کښے آخته وی. ۶ اَوۀ چه
کُومه په عیش عشرت آخته شوه، هغه په ژوندانۀ مړه شوه.
۷ دَ دے خبرو هم حُکم کوه چه هغوئ بے اِلزامه پاتے
شی. ۸ که څوک دَ خپلوانو اَوۀ خاص دَ خپلے کورنئ
خیال نۀ ساتی نو هغه دَ خپل ایمان نه مُنکر اَوۀ دَ بے ایمانئ نه
هم بد دے.

۹ هغه کونړه دِ په فهرست کښے لیکلے شی کُومه چه دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شپیتو کالو نه کمه نهٔ وی اَؤ دَ یو خاوند نه پاتے شوے وی.
۱۰ اَؤ په نیکو کارُونو کښے مشهُوره وی، دَ بچو تربیت ئے
کړے وی، دَ مُسافرو میلمستیا ئے کړے وی، دَ پاکانو پښے
ئے وینځلے وی، دَ مُصیبت زپلو مدد ئے کړے وی اَؤ دَ هر
ښهٔ کار کولو لیواله وی.

۱۱ خو دَ ځوانو کونډو نومُونه مه درج کوه ولے چه هر کله
چه هغه دَ مسیح دَ خدمت خلاف دَ نفس تابع شی نو وادهٔ
کول غواړی، ۱۲ اَؤ داسے دَ سزا لائقه وګرزی ځکه چه
هغوئ خپل وړُومبے لوظ پریښودو. ۱۳ اَؤ دَ دے نه علاوه
هغوئ کور په کور ګرزی اَؤ بے کاره اوسیدل زده کوی، اَؤ
صرف بے کاره نهٔ پاتے کیږی بلکه غیبت اَؤ دَ نورو په کار
کښے ګُوتے هم وهی اَؤ فضولے خبرے کوی. ۱۴ نو زَهٔ دا
غواړم چه ځوانے کونډے دِ میړهٔ وکړی چه دَ هغوئ اَؤلاد
وشی اَؤ دَ کور اِنتظام دِ کوی اَؤ دَ هیچا مخالف له دِ دَ بدے
وینا کولو موقع ورنهٔ کړی. ۱۵ ځکه چه ځنے کونډے
ګُمراه شوی اَؤ دَ شیطان په لارے روانے دی. ۱۶ که دَ چا
ایمان راؤړُونکی ښځے سره کُونډے وی نو هغه دِ دَ هغوئ
پالنه وکړی اَؤ په جماعت دِ پیتے وانهٔ چوی، دَ پاره دَ دے
چه دَ هغه چا مدد وکړے شی چه یواځے وی.

۱۷ کُوم مشران چه دَ جماعت ښهٔ اِنتظام کوی، خاص
هغوئ چه په کلام آؤرولو اَؤ په تعلیم ورکولو کښے خواری
کوی، هغوئ دِ یو په دوه دَ عزت لائق وګڼلے شی. ۱۸ ځکه
چه دَ خُدائے کلام وائی چه "تاسو دَ غویل دَ غوائی خُلے ته
کوزے مه اچوئ"

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اَؤ ”مزدور دَ خپلے مزدُورئ حقدار دے.“ ۱۹ کُومه دعویٰ
چه دَ چا مشر په خِلاف وشی نو هغه دَ دوؤ یا دَ دريو گواهانو
نه بغير مه آوره. ۲۰ څوک چه گُناه کوی، هغوئ دَ ټولو
خلقو په وړاندے ملامتوه، دَ پاره دَ دے چه نور خلق هم
وويريږی. ۲۱ دَ خُدائے اَؤ دَ مسيح عيسیٰ اَؤ دَ هغه غوره
شوو فرښتو په مخکښے حُکم درکوم اَؤ تا ته تاکيد کوم چه
په دے خبرو بغير دَ تعصب نه عمل کوه اَؤ دَ هيچا طرفداری
مه کوه. ۲۲ په چا زر لاس مه ږده چه دَ خُدائے دَ خدمت دَ
پاره مخصوص شی، اَؤ دَ نورو په گناهُونو کښے مه
شريکيږه. خپل ځان پاک ساته.

۲۳ دَ آئنده دَ پاره تشے اوبۀ مه څښه بلکه دَ خپلے معدے
اَؤ اکثر ناجوړه کيدو په وجه لږ شان شراب هم استعمالوه.

۲۴ دَ ځنو کسانو گُناهُونه ښکاره وی اَؤ هغوئ به سزا
ومُومی، اَؤ دَ ځنو گُناهونه وروستو ښکاره کيږی. ۲۵ دغه
شان دَ ځنو ښۀ کارُونه هم ظاهر شی، اَؤ کُوم يو چه ښکاره
نۀ شی، هغه هم پټيدلے نۀ شی.

## غُلامان

۶ ۱ هغوئ ټول چه غُلامان دی، هغوئ دِ خپل مالِکان
پُوره دَ عزت لائق وگنی چه دَ خُدائے نُوم اَؤ زمُونږ تعليم
بدنام نۀ شی. ۲ اَؤ چه دَ چا مالِکان ايمان راوړُونکی دی،
هغه دِ هغوئ دَ وروروالئ په سبب سپک ونۀ گنی بلکه دَ دے دَ
پاره ئے زيات خدمت وکړئ چه فائده آخستُونکی، ايمان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوړونکی اَوْ ګران دی. تهٔ دَ دے خبرو تعليم ورکوه اَوْ نصيحت کوه.

## دَ دروغو تعليم اَوْ حقيقی دولت

٣ که څوک بل شان تعليم ورکوی اَوْ صحيح خبرے، يعنے زمُونږ دَ مالِک عيسیٰ مسيح خبرے اَوْ هغه تعليم نهٔ منی کوم چه دَ ديندارئ په مُطابق دے، ٤ هغه مغرُور دے اَوْ په هيڅ نهٔ پوهيږی، بلکه هغهٔ ته دَ بحث اَوْ زبانی تکرار مرض دے چه دَ هغو په وجه کينه اَوْ جګړے اَوْ بده وينا اَوْ بد ګمانی، ٥ اَوْ په هغه کسانو کښے مُدام تکرار پيدا کيږی دَ چا عقل چه خراب شوے دے، اَوْ هغوئ دَ حق نه محرُوم دی اَوْ دينداری تش دَ ګټے ذريعه ګنی.

٦ هو دينداری دَ قناعت سره ډيره دَ ګټے ذريعه ده. ٧ ځکه چه نه خو مُونږ دُنيا ته څهٔ راوړل اَوْ نهٔ دَ هغے نه څهٔ وړلے شُو. ٨ نو بيا که مُونږ سره دَ خوراک اَوْ دَ آغوستو څهٔ وی نو په هغے دِ قناعت وکړو. ٩ خو څوک چه دولتمند کيدل غواړی نو هغه دغه شان په آزميښتُونو اَوْ دَ ډيرو نورو عبثو نقصانی خواهشُونو په دام کښے ګيريږی کُوم چه خلق دَ تباهئ اَوْ هلاکت په درياب کښے غرقوی. ١٠ ځکه چه دَ زرو دوستی دَ هر قِسم بدئ يو بيخ دے، چه دَ هغے په خواهش ځنی دَ ايمان نه ګُمراه شول اَوْ خپل زړُونه ئے په قِسم قِسم غمُونو غلبيل کړل.

## دَ ايمان ښهٔ جنګ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۱) اَئے خُدائی بنده! تهٔ دَ دے خبرو نه وتښته اَؤ دَ صداقت،
دینداریٔ، ایمان، مینے، صبر اَؤ په نرم طبیعت پسے کوشِش
کوه. (۱۲) اَؤ دَ ایمان په جنګ کښے ښهٔ وجنګیږه، اَؤ په هغه
ابدی ژوندُون قبضه وکړه دَ کُوم دَ پاره چه تهٔ رابللے شوے
ئے اَؤ دَ ډیرو ګواهانو په وړاندے دِ ښهٔ اِقرار کړے وو. (۱۳)
زَهٔ دَ هغه خُدائے چه ټول ځیژُونه ژوندی کوی، اَؤ دَ مسیح
عیسیٰ په مخکښے چا چه دَ پنطوس پیلاطوس په وړاندے
ښهٔ اِقرار کړے وو، حُکم در کوم اَؤ تا ته په ټینګه وایم. (۱۴)
چه زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح دَ ظاهریدو تر ورځے پورے
حُکم بے داغه اَؤ بے اِلزامه ساته، (۱۵) کُوم چه خُدائے په
مُناسب وخت ښکاره کوی، هغه چا چه مبارک یکی یو حاکِم
دَ بادشاهانو بادشاه اَؤ دَ مالِکانو مالِک دے. (۱۶) هغه
یواځے هغه دے چه هیڅ کله نهٔ مری اَؤ هغه په هغه نُور
کښے اوسیږی چه څوک ورته رسیدلے نهٔ شی، نهٔ هغه هیچا
اِنسان لیدلے دے اَؤ نهٔ ئے لیدلے شی. دَ هغهٔ عزت اَؤ
بادشاهی دِ تل تر تله وی، آمین.

(۱۷) دَ دے موجُوده جهان دولتمندو ته حُکم ورکړه چه
مغرُور کیږی دِ نهٔ، اَؤ په نا اِعتبار دولت نه، بلکه په خُدائے دِ
اُمید ولری چه دَ مزو دَ پاره مُونږ له ټول ځیژُونه ډیر زیات
راکوی، (۱۸) اَؤ چه نیکی کوی اَؤ په ښو کارُونو کښے
دولتمند شی، اَؤ سخاوت کولو ته تیار اَؤ مدد ته ملا تړلے
اوسی. (۱۹) اَؤ داسے به هغوئ ځان ته یوه داسے خزانه
راټوله کړی چه په راتلُونکی وخت کښے به دَ هغوئ دَ پاره یو
مظبُوط بُنیاد وی چه په هغے به هغوئ هغه ژوندُون تر لاسه
کړی کُوم چه رښتینے ژوندُون دے. (۲۰) اَئے تیموتیوس! دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

امانت په حفاظت وساته اَوْ کُوم يو عِلم ته چه دَ سره عِلم
وئيل غلط دى، دَ هغۀ په عبثو خبرو اَوْ دَ مُخالفت خيال مه
ساته. ۲۱ ځنو دَ هغه عِلم اِقرار وکړو اَوْ دَ ايمان نه
راوګرزيدل.

په تاسو ټولو دِ فضل وى.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.